محمد هارون خپل شعشعي


۱۵ جولای ۲۰۱۲

## د

## علي محمد مُخلِص

## عرفاني فرهنګ

## د

## محمد هارون خپل شعشعي

## ليکنه او څېړنه

## ۵۸

**۱۲۵- عِرْفان ( د « ع » په زېر) او مَعرِفَت ( د « م » په زْوَر او د « ر » په زېر) :**

دعرفان عربي ټکی په لغت کي پوهي، پېژندني، تصور، منني، تصديق، احسان او خدای پېژندني ته وايي[۱] . معرفت له لغوي اړخه د پېژندني، پېژندګلوی اشنايی، موندني، کشفولو، ليدلو، منلو، تصديق کولو، عِلم او پوهي په مانا دئ[۲] .

د اسلامي تصوف او عرفان تيوريسنانو، عرفاني دونيا او په هغي کي نغښتي موضوعګاني، په بېلابېلو بنو بيان کړي دي . کله کله په دغو تعريفو کي ماهوي او کيفي؛ او کله کله هم شکلي او ظاهري اختلافونه تر سترګو کېږي . شيخ الرييس حجة الحق ابن سينا( ۳۷۰- ۴۲۸ هـ ق) هغه څوک عارف ګڼي،چي خپل باطن يې له غيره ساتلئ؛ اود الهي تجلياتو د همېشنی ځلا په مقصد يې د جبروت وسپېڅلي عالَم ته اړولئ يي (وي)[۳] .

په « فرهنګ لغات و تعبيرات عرفاني » کي د عرفان داسي پېژندنه سوې ده : « د حق تعالی پېژندنه او له الهي علومو څخه د هغي پوهي نوم دئ، چي موضوع يې د خدای او د هغه د نوموا وصفتو پېژندنه ده[۴] . » د عرفاني آثاروځينو ليکوالو او مصنفينو د عرفان ټکی په عامه او خاصه مانا کارکړئ دئ . د دوی په اند، عرفان په عامه مانا، د يوه شي د ژورتيا او پټو حقيقتو په باب پوهي او خبرتيا ته وايي؛ خو عرفان په خاصه يا ځانګړې مانا د کشف او شهود له لاري د شيانو پېژندني اوحقيقت موندني په مانا کارېږي[۵] . ځينو عرفان يا تصوف د الهي پوهي يا حقيقتو د پوهي په نامه ياد کړئ دئ، چي موضوع يې د کايناتو له خالق سره د مخلوقاتو د اړيکو او بالعکس له مخلوقاتو سره د مطلق خالق د اړيکو پېژندنه ده . ځينو نورو بيا عرفان هغه لار يا پوهه ګڼلې ده، چي دکايناتو پټو حقيقتو ته د رسېدو دپاره، نه پر عقل او استدلال، بلکي پر ميني، شوق، اشراق او له حقيقت سره پر يووالي ولاړه ده[۶] . لکه څنګه چي مالوميږي، په عرفان کي يوازي د حقيقت موندني پوهه کافي نه ده . د خالق

تعالی په بېلابېلو او پراخو عالموکي پټو حقیقتو ته رسېدل، پر پوهې او بصیرت سربېره، عرفاني عمل ته هم اړتیا لري . عرفاني پوهه، په واقعیت کې، د عرفاني عمل نتیجه ده .

د اسلامي تصوف او عرفان نومیالي مخکښ - سید ابوالحسن علي هجویري ( په ۴۶۵ هـ ق کې مړ) هم په خپل مشهور عرفاني اثر « کشف المحجوب » کې معرفت هغه پوهه او لار ګڼلې ده، چې په هغې کې حال او عمل دواړه شامل دي[۷] .

د عرفاني پوهې د تر لاسه کولو په مقصد د ځینو منزلو او پړاوو د تېرولو اړتیا، اسلامي عرفان پر دوو بېلو برخو ( عملي او نظري) وېشلئ دئ . عملي عرفان، توحید او فنأ ته د رسېدو دپاره د ډول ډول حالونو او مقامو په ګډون د یوې هر اړخیزې او سختې کړنلارې پر مخ بېول دي، چې په عرفاني اصطلاح د سیر او سلوک یا طریقت په نامه یادیږي[۸] .

د اسلامي تصوف او عرفان وتلي نظریه پرداز- شېخ عزیزالدین بن محمد نسفي (۶۳۰ - ۷۰۰ هـ ق) په خپل لوړ عرفاني اثر « انسان الکامل » کې نېک معارف د کامل انسان له څلورو صفتو څخه یو صفت ګڼي، چې په هغه کې د دونیا معرفت، د آخرت معرفت، د ځان معرفت او د پروردګار معرفت شامل دئ[۹] . شېخ نسفي، د خپل کتاب په یوه بله برخه کې د ځان معرفت، د خدای معرفت، د دونیا معرفت، د آخرت معرفت، د مرګ معرفت، د شیطان معرفت، د ملایکو معرفت، د نبي معرفت اود ولي معرفت د نېکو معارفو له مهمو ډولو یا برخو څخه بولي . دی وروسته د معرفت د بېلابېلو برخو په اړه زیاتیي: « که ووایاست، چې د معرفت دپاره د اتلسو شیانو زده کړه ضروري ده، هم سمه خبره ده . که داسې و انګېرئ، چې د معرفت دپاره نو ( نهو) مسألو ته پاملرنه په کار ده، هم سهي ( صحیح ) خبره ده؛ اوکه دا ټولي برخې سره ګډې کړئ او ووایاست، چې د معرفت تر لاسه کولو په خاطر، د یوه شي یا یوه حقیقت ( حق تعالی ) زده کړه مهمه او ضروري ده، بیا هم نه یاست تېروتلي. د ده په عقیده، تر ټولو ارزښتناکه مسأله داده، چې سالک باید دا شی یا شیان په عین الیقین سره وپېژني[۱۰] .

نظري عرفان، له شهودي موندونو څخه د کایناتو او انسان د حقیقت په اړه د عارفانو د تعبیرو او پوهې مجموعې ته وایي . داپوهه د عقل په ژبه، د هغو پېښو او حالاتو بیان دئ، چې عارفانود زړه په سترګو لیدلي دئ[۱۱] . ویل کیږي، چې اسلامي عرفان د خاص نړی لید او ځانګړو موضوعاتو د یوې بېلې پوهې یا مضمون په توګه د لوی شېخ - محی الدین ابوبکر محمد بن عربي حاتمي طایي ( ۵۶۰- ۶۳۸ هـ ق) له خوا رامنځته سو[۱۲]. ځینو عارفانو په خپلوعرفاني آثاروکي د صوفیانو له دودونوسره سم د حقیقت موندنې په باب هر راز پوهې ته د عرفان پر ځای د معرفت اصطلاح کار کړې ده[۱۳].

په اوسنیيو عرفاني آثاروکي د عرفان اصطلاح د نومو، صفتو او نخښو له پلوه د حضرت حق سبحانه وتعالی ، د کایناتو د مبدأ او معاد د حقایقو، له یوه مطلق حقیقت ( الله تعالی ذات) سره د دغو حقایقو د یوځای والی په اړه، هر اړخیزې پوهې ته ویل کیږي . معرفت د جزییت له قید و بند څخه د نفس د ژغورنې او له خپلې مبدأ او کُلیت سره د یوځای کېدو په خاطر، مجاهدو او کوښښو ته وایي[۱۴]. په عامه اصطلاح عرفان او معرفت زیاتره د دوو مترادفو ټکو په بڼه استعمالیږي .

د پښتنو مفکر عرفاني لاربښود - بایزید روښان ( ۹۳۱ - ۹۸۰ هـ ق) معرفت د خپل عرفاني طریقت څلرم مقام ګڼلئ؛ او د هغه د ارزښت په باب یې خورا ژورې او په زړه پورې خبرې کړې دي . دی په خپل ارښتناک عرفاني اثر « صراط التوحید »کې له عقل سره د معرفت د اړیکو په باب داسې یادونه کیي : عاقلان

باید خپل عقلونه ویښ کي، چي امر و نهي، حلال و حرام، نېکي او بدي غوښتني او د پېغمبرانو، مؤمنانو، مخلصانو، کاپیرانو(کافرانو) او منافقانو خویونه وپېژني . میا روښان، د قرآن کریم د اعراف د سورې د یوسلونه اویایم آیت د یوې برخي( . . . اولئک کاالانعام بل هم اضل اولئک هم الغفلون۱۵) په استناد، هغه کسان له حیواناتو سره ورته بولي، چي خپل ځان او خدای نه پېژني .

بایزید روښان، د خپل عرفاني سیر او سلوک له لومړیيو درو مقامو ( شریعت، طریقت او حقیقت) سره د معرفت مقام داسي پرتله کيي : « الشریعة کمثل الیل والطریقة کمثل النجوم و الحقیقة کمثل القمر و معرفة کمثل الشمس و لیس فوق الشمس شی۱۶ » یاني شریعت د شپې، طریقت د ستورې، حقیقت د سپوږمی او معرفت د لمر په شان دئ؛ او هیڅ شی تر لمر پورته نسته . د میا روښان له دې عرفاني نظریې څخه داسي بربښي، چي معرفت د روحاني اوعرفاني کوښښو تر ټولو لوړ مقام دئ . ځکه هغه په څرګنده وایي، چي تر لمر ( معرفت) پورته هیڅ شی نسته . له بلي خوا د روښاني سیر او سلوک له څلورو وروستییو مقامو ( قربت، وصلت، وحدت او سکونت) څخه ښکاري، چي د سالکانو عرفاني سفر د معرفت مقام ته په رسېدو سره پای ته نه رسیږي؛ ځکه عرفاني پوهه په یوازیتوب سره د سیر او سلوک لارویان تر اصلي منزله نه رسیي . د « فنأفي الله او بقأ بالله » لوړ عرفاني مقام ته رسېدل د نورو عرفاني پړاوو او منزلو ( قربت، وصلت، وحدت او سکونت) و بریالي تیرولو ته هم اړتیا لري .

پیر روښان، د خدای پېژندني په باب د هرات د نامي عارف - خواجه عبدالله انصاري ( ۳۹۶هـ ق / ۱۰۰۶ع – ۴۸۱هـ ق/ ۱۰۸۸ع) د ې وینا ته اشاره کيي، چي وایي : « معرفة الله فی الدنیا بذر لقأ الله فی الآخرة » یاني پر دې دونیا د حق تعالی پېژندنه، په آخرت کي د هغه ذات د لیدو زړی یا توخم ( تخم ) دئ۱۷ . میا روښان دغه راز، بې معرفته پیر ته د بې چته خوني په څېر ګوري : « . . . الشیخ بلا معرفة کالبیت بلا سقف۱۸ . . . » د روښاني طریقت مخکښان، د رسول الله ( ص) د مبارک حدیث پر بنسټ باور لري، چي څښتن تعالی، په زر کاله هم د چا بې معرفته عبادت نه قبلیي۱۹ .

عارفانو، د قرآني آیتو اونبوي حدیثو په رڼا کي د خدای پېژندني په باب، خورا اوږدې خبري کړي دي . ځینو عقل، ځینو استدلال، ځینو ایمان او یقین، ځینو الهي فضل او کرم او ځینو نوروډې ټولو ګڼون او یووالی، د الله تعالی د پېژندني یا معرفت کیلي ګڼلی ده ۲۰.

د اسلامي تصوف اوعرفان په نړی کي د سپېڅلي قرآن د ډېرو نورو آیتو تر څنګ، د ذاریات د سورې شپږ پینځوسم آیت ( ۵۱ : ۵۶) د عرفان د اصلي او اساسي هدف په توګه وړاندي کیږي . په دې مبارک آیت کي راغلي دي : « وما خلقت الجن والانس الا لیعبدون » یاني ما پیریان او انسانان د دې دپاره پیدا کړل، چي زما عبادت وکړي . لکه څنګه چي له دې قرآني نص څخه په ډاګه څرګندیږي، د خدای تعالی عبادت د انسان د پیدایښت او ژوندانه یوازنی هدف دئ . بېله شکه دا لوړ رسالت او مسوولیت یوازي هغه مهال ترسره کیدای سي، چي انسان د عرفان یا معرفت په ګانه سمبال يي؛ ځکه عارفان په پټو سترګو یا بې عرفانه عبادت، شیطان ته سجده ګڼي . دې خبرو ته په پام سره د عارفانو په عقیده، خدای پېژندنه، ځان پېژندنه او کاینات پېژندنه د اسلامي عرفان د اساسي موضوع په توګه، د انسان د پیدایښت لومړنی او اساسي هدف دئ .

خدای تعالی د ق د سورې په شپاړسم آیت ( ۵۰ : ۱۶) کي داسي حُکم کيي : « . . . و نحن اقرب الیه من حبل الورید » یاني زه و انسان ته د هغه تر ښارګ ورنیژدې یم ؛ خو بې معرفته انسان په دې حقیقت نه پوهیږي . انسان په ذکر او فکر کولای سره سي د لوی څښتن د قدرتو او صفتو د پېژندني پر لورګام واخلي .

رسول الله ( ص ) په یوه حدیث کي « من عرفه النفس فقد عرفه » د ځان پېژندنه، د حق تعالی پېژندنه بولي . په دي لنډ او کوچني حدیث کي په ریښتیا سره ډېره لو( لویه) او ژوره فلسفه پرته ده؛ ځکه د کایناتو هر موجود د الله تعالی د نومو او صفتو ځرګنده نخښه ده . انسان د مخلوقاتو په ډله کي د خپلي برتري او افضلیت له امله، د لوی پروردګار د ستري هستی تر ټولو روښانه ثبوت دئ . د عقل خاوندان د عارفانو له لوړو نظریو سره سم، د وني هره پاڼه د بې شانه او بې ساري څښتن د پېژندني ځرګند او مفصل کتاب بولي . لکه څنګه، چي شېخ سعدی علیه الرحمه ( ۶۰۶ - ۶۹۱ هـ ق) وایي :

برگ درختان سبز در نظر هوشیار

هرورقش دفتری است معرفت کردگار

زموږ فکور او نظریه پرداز شاعر، علي محمد مخلص، هم په خپل عارفانه کلام کي د اسلامي عرفان او معرفت په باب خورا ژوري او کره نظریې وړاندي کړي دي . عرفان او معرفت د دې روښانفکره او بینادل شاعر د دیوان اصلي او محوري موضوع ده . که ووایو، چي د مخلص دیوان سر تر پایه د عرفان او معرفت په بیان کي ویل سوئ دئ، بې ځایه خبره به مو نه يي کړې . که د پښتو ژبي د ځینو شاعرانو په کلام کي د تصوف او عرفان خال خال نخښي او بولګي تر سترګو کیږي، د مخلص د پښتو او پارسي شاعری په تاروپودکي بې تصوف او عرفانه، بل هیڅ څه نه لیدل کیږي . په بله وینا، معرفت او عرفان د مخلص د ټولي شاعری زړه او روح ده . د مخلص په پښتو دیوان او پارسي نظموکي د اسلامي عرفان زیاتره علمي او فلسفي مسألي په ژوره او ظریفانه بڼه څېړل سوي دي . البته، د علي محمد مخلص په پښتو او پارسي کلام کي د« عرفان » او « معرفت » اصطلاحات د زیاترو مخکښو عرفاني مفکرانو په څېر په مترادفه بڼه کار سوي دي . دلته له بېلابېلو اړخو څخه د دي ځېرک او باریک بین عارف په شاعری کي د « عرفان » او « معرفت » څو مثالونه وړاندي کوو .

مخلص، ددې نبوي حدیث « طلب الله تعالی فرض قبل الکل فریضة » د لارښووني له مخې، د لوی څښتن پېژندني ته، تر هر بل فرض د لومړیتوب حق ورکیي . هغه، په یوه غزله کي د اسلامي عرفان زړه او ارواه، مغز او زړی په داسي خونده وره او ساده ژبه بیانیي :

د خپل ځان پېژندګلي د حق عرفان دئ

د خپل ځان په دانستن کړه احتـیاطه

که خبر شي چي زه څه په څه موجود یم

د عرفان کونجي دي بیاموندہ شطاطه

په بله غزله کي، معرفت او د هغه مېوه داسي انځوریي :

معرفت په مثال تُخم بر لقأ شه

بېله تُخمه به حاصل نه کړې هیڅ بار ته

بل ځای، د قرآني آیت او نبوي حدیث په رڼا کي، عرفان او معرفت د انسان د پیدایښت یوازنی عامل ګڼي؛ او له دې امله انسان ته خبرداری ورکیي، چي نه په پټو سترګو؛ بلکي د خدای د ذات او صفتو په پېژندلو سره، د هغه عبادت ته ملا وتړي :

« فرض آمد معرفت بر آدمـی

زانکه او مخـلوق بهـر آن سنی

ما خلقت الجن و الانس ای عـزیز

از خدا بشنو اگر داری تمیز
کنت کنزاً گفت حق اندر زبور
بهر عرفان خلق را کردم ظـهور
زین سبب فرمود آن هادی رسـول
که ای عبادت نیست بی عرفان قبول
اول معبود خود باید شناخت
بعده در طاعتش باید شتافت ۲۱ . . . »

مخلص، د رسول الله ( ص ) او خپل عرفاني پیر ، بایزید روښان، له لارښوونو سره سم، معرفت ته د لمر په شان ګوري :

معرفت مثال د نمر شه په جهان کښي
دامثـال دئ ظاهر سوی و سرور ته

په بله غزله کي د انسان لوړ او ځانګړی مقام د هغه له ځان او جهان پيژندني سره تړي :

څو هستي د ځان۲۲، جهان در ښکاره نه وي
د انسان صفت دي نشته بي نموده

په بل ځای کي د آخرت توښه د معرفت په تر لاسه کولو کي بولي :

ښه مقصود دئ معرفت که يي حاصل کړي!
چي فردا په حشر نشي شرمسـار ته!

مخلص، په يوه غزله کي ځان پيژندنه د اروا د ګاڼي او پسول په توګه ستايي :

روح قيمت د معرفت په سبب مومي
چي يي نن له خپله ځانه خبر بيـا موند

په بله غزله کي د معرفت اوايمان تر منځ اړيکو ته په دي نظر ګوري :

چي د معرفت ميوه پرې پوري نــــه وي
په معنا يي د ايمـان ونه ده تونده
چي يي زړه لار د عرفان مونډلي نه وي
د ايمان کلام يي بــــاد پر ژبه، شونډه

په يوه غزله کي د معرفت پټه خزانه خپله ازلي برخه ګڼي :

چي پټ ګنج دمعرفت يي په لاس کښيوزي۲۳
په ازل وه د مخلص بخره فيـروزه
چي جلوه د معرفت پر بـاندي وشوه
دعارف زړه ښايسته شه له نـوروزه

مخلص، په خپله عرفاني شاعرۍ کي د معرفت او عرفان هيڅ اړخ تاريک نه دئ پريښئ . په يوه غزله کي بي عرفانه عبادت بي ګټي دود او رواج؛ او بی عرفانه سجده په باطن کي شيطان ته سجده ګڼي . له دې امله د حق د لاري هر لاروي ته خبرداری ورکيي، چي دا کار زموږ د سپيڅلي پيغمبر له لاري او سُنت څخه ښکاره سرغړونه ده :

بي عرفانه عبادت رسم، عادت دئ
ته پر لاري د عادت په سرعت مه ځه
بي عرفانه عبادت ټُل نا قبول دئ
د سرور نبي له امره غلت مه ځه

***

بي عرفانه عبادت ناقبـول ګوره !
ټُل سجده دي په باطن ده و شيطان ته
دصـــفات په معرفت مه هوسېږه !
ځود ځان عرفان دي نه وي وجانـان ته

په نورو غزلو کي همدا مفهوم د « معرفت » د اصطلاح په کارولو سره داسي بيانيي :

عبادت بي معرفت لکه ســـراب دئ
په سراب د تږي چري حلقوم تر شي
عبادت بي معرفته رسم، عادت دئ
دعادت په عبادت غره اکثر شي
عبادت بي معرفته ناقبـول دئ
په حشر به يي ټُل خيـــر واړه شر شي

مخلص، د خپل عرفاني لاربنود، پير روښان، له نظريو سره سم رسمي عالِم، عابد او زاهد ته د داسي ماشومانو په سترګه ګوري، چي له ذات پيژندني او توحيد پوهني ناخبره دي :

« عالِم و عابد و زاهد همه طفلان رهند
مرد ګر هست بجز عالِم ربانی نيست۲۴ »

شک نسته، چي زموږ موحد عارف، علي محمد مخلص، د دين د عالِم، ريښتيني عابد او بي ريا زاهد په لوړ مقام ډېر ښه خبر دئ؛ خو د ده استدلال دادئ، چي د ذات له عرفان او توحيد پوهني پرته، وچ عِلم، وچ عبادت او وچ زهد په يوازي سر، ځوک دحق تعالی حضور ته نسي رسولای .

مخلص، په ډېرو غزلو کي د کامل پير لاس نيوی او لاربنوونه د عرفاني پوهي د تر لاسه کولو ضامن ګڼي :

که عرفان غواړي کامـــــل لره ور درومه !
شب وروز کړه د کامل صحبت اختيار ته

***

د عرفان نور به حاصل کړي په دنيا کښي
که په نغوته کښي ثابت د رهنمـــــا ځي !

***

ځو صحبت د پير کامل دي حاصل نشي
په نمانځه ۲۵به خبر نشي له وجوده
عبادت د اسلام رسم، ترک يي مکړه ۲۶!

نتیجه به جنت بیا مومي خلوده

معرفت به بې کامله حاصل نه کړي۲۷!

مونده نشي له قیام، رکوع، سجوده

که نظر د پیر کامل در باندي۲۸وشي

و به ګوري۲۹ د جمله ساجد مسجوده

***

که په رسم، عادت لغړ کړي زنګنونه

بې کامله به ورنشي و عرفـان ته

په بله غزله کې دا عرفاني نظریه وړاندي کیي، چي د الله سبحانه و تعالی په نظر، له پوهي او عرفانه سره لړ عمل، د پیَو سترګو او ناپوهی‌تر ډېر عمل غوره دئ :

لږ عمل له علمه حق په ډېر قبول که

ډېر عمل بې علمه لږ یاد په قـرآن دئ

د مخلص په عارفانه کلام کي د معرفت او عرفان په پېژندنه او ستاینه کي ژور او په زړه پوري بیانونه راغلي دي .

د نورو مالوماتو دپاره وګورئ : تصوف، د عارف او صوفي توپیر، شریعت، طریقت، حقیقت، قربت، وصلت، وحدت، سکونت، پوهه او عقل .

**لمنلیکونه**

۱ عمید۳ : ۱۷۱۰ ؛ Wehr 606 .

۲ عمید۳: ۲۲۷۴ ؛ Wehr 605 .

۳ یثربی، فلسفهٔ عرفان : تحلیلی از اصول و مبانی و مسایل عرفان ۲۰۱ .

۴ سجادی ۳۳۱ .

۵ رزمجو ۲۰۱ .

۶ یثربی، فلسفهٔ عرفان : تحلیلی از اصول و مبانی و مسایل عرفان ۳۳ .

۷ هجویری ۷۰۴ .

۸ یثربی، عرفان نظری : تحقیقی در سیرتکاملی و اصول و مسایل تصوف ۴۲ .

۹نسفی، انسان الکامل ۳۱ .

۱۰ نسفی، انسان الکامل ۹۷ .

۱۱ یثربی، عرفان نظری : تحقیقی در سیرتکاملی و اصول و مسایل تصوف ۴۲ .

۱۲ یثربی، فلسفهٔ عرفان : تحلیلی از اصول و مبانی و مسایل عرفان ۳۵ .

13 Ansari 74 .

۱۴ یثربی، عرفان نظری : تحقیقی در سیرتکاملی و اصول و مسایل تصوف ۲۸ .

۱۵ یاني هغوی بوده ګان ؛ او آن تر بوده ګانو هم ګمراه دي . هغوی بې خبره دي[ هیڅ خبرداري ته پام نه کيي ] .

۱۶ اسفندیار ۲۸۲.

١٧ مخلص، حالنامۀ بایزید روښان ١۴٨.

١٨ مخلص، حالنامۀ بایزید روښان ١۶١.

١٩ مخلص، حالنامۀ بایزید روښان ١۵٠.

٢٠ هجویری ۵٠٣ - ۵٢٠ .

٢١ مخلص، حالنامۀ بایزید روښان ۶٩۶ .

٢٢ اصل : د ذان .

٢٣ اصل : کیوزی . د علي محمد مخلص په دیوان کي د ځینو ټکو دغه راز لیکدود له ورایه د کاتب تصرف او لاسوهنه ښیي .

٢۴ مخلص، حالنامۀ بایزید روښان ٢١۴ .

٢۵ اصل : پنمانده .

٢۶ اصل : مکړ .

٢٧ اصل : کړ .

٢٨ اصل : در باند .

٢٩ اصل : وبگور.

پاته لري